هفته واره رساله

# حضرت امیر مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ



- د مولیٰ علي په خاندان کښې معاویه نوم
- د اسلام ورومبی بادشاه
- د حضرت امیر معاویه رضی اللہ عنہ آخري الفاظ
- په جنګ کښې مولیٰ رضی اللہ عنہ په حق وو


شيخ طريقت، امير اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط

# حضرت امیر مُعاوِیَہ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ [1]

**دُعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ''حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ'' ولولي یا واوري هغه د خپل خوږ اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم اِحترام کوونکے جوړ کړې او هغه د مور او پلار سره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## 100 ضرورتونه به پوره کیږي (د دُرُود شریف فضیلت)

د عظیم تابعي بُزُرګ، د ساداتِ کرامو د سرخیل، حضرت سیدنا امام جعفر صادق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د حضرت سیدنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه مرفوعاً روایت کوي څوک چې د الله پاک د اخري نبي محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي په اهلِ بیتو باندې سل (100) کرته دُرُودِ پاک ولولي الله پاک به د هغهٔ سل (100) ضرورتونه پوره کړي، په کومو کښې چې به اویا (70) په اخرت کښې وي۔

---

[1] ... په 22 رجب شریف کال 1445 او کال 1446 هجرۍ د سیدنا امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د عُرس په موقع د شوو د امیر اهلِ سُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د بیانونو او په 25 رجب شریف په کال 1446 هجرۍ د دستارِ فضیلت په موقع باندې د شوې مدني مذاکرې نه په موادو راجمع کولو دا رساله تیاره کړے شوې ده۔

پهٔ دې حديثِ پاک باندې د عمل کولو د پاره چې د دُرُود شريف کوم الفاظ شيخ سَجاعِي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ مرتّب کړي دي او د دې حديثِ پاک پهٔ حاشيه کښې يـې د اُمت د اسانۍ د پاره ليکلي دي هغه دا دي: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اَھۡلِ بَیۡتِہٖ۔ (افضل الصلوات علی سید السادات، ص 67 )

اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پهٔ خپل مشهور سلام "مصطفٰے جانِ رَحمت پہ لاکھوں سلام" کښې د اهلِ بيتو پهٔ باره کښې ډير پهٔ ښکلي انداز کښې سلام پيش کړے دے:

پارہائے صُحُف غُنچہائے قُدُس — اہلِ بیتِ نُبوّت پہ لاکھوں سلام
خونِ خَیرُ الرُّسُل سے ہے جن کا خَمیر — اُن کی بے لوث طِینَت پہ لاکھوں سلام
اور جتنے ہیں شہزادے اُس شاہ کے — اُن سب اہلِ مکانَت پہ لاکھوں سلام
اُن کی بالا شَرافت پہ اعلیٰ دُرود — اُن کی والا سِیادت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص 314، 309)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سيد بادشاه فيصله

پيرِ طريقت، رهبرِ شريعت حضرت سيد محمد باقِر علي شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ (سجاده نشين آستانهٔ عاليه گیلَیانواله شريف) فرمائي: " کوم انسان چې د سيدنا امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې نقص راويستو والا وي، الله پاک هغهٔ ته ولايت نهٔ عطا کوي-" يو ځل يـې مجلس والؤ ته خپله يوه واقعه څهٔ داسې بيان کړه چې: يوه ورځ لس بجې يو کَس ته ما پهٔ خبرو اترو کښې ووئيل: امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې د حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره مقابله اوکړه، پهٔ هغې کښې

هغوئي ډېر زياتے اوکړو، دومره مې ووئيل او د دې سره زما په خپل زړهٔ کښې خيال راغلو چې ما د امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شان کښې غلط الفاظ وئيلي دي، د دې سره زما روحاني فيض بند شو، ټوله ورځ مې په پريشانئ کښې تيره شوه، کله چې شپه شوه او زهٔ اودهٔ شوم، پهٔ خوب کښې مې پخوانے بيټهک شريف وليدو، زما والدِ محترم حضرت خواجه نورُ الحَسن شاه صاحب خليفهٔ مجاز حضرت شيرِ رباني قِبله ميان شير محمد شَرقپوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ټول ژوند په دې بيټهک شريف کښې روحاني لړئ جاري ساتلې وه او هم دلته يې رحلت فرمائيلو وو، هُم پهٔ خوب کښې چا د بيټهک شريف دروازه وډبوله، دروازه چې برسيره کړے شوه نو ناڅاپه حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دننه تشريف راوړو، پهٔ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او پهٔ هغوئي پسې شاته حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وو، درې واړه حضرات داسې ولاړ وو چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښي طرف ته حضرت علي او امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما وو، حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خاموشه وو، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ناراضګئ پهٔ حالت کښې ما ته اِرشاد وفرمائيلو: "جګړه زما او د امير معاويه وه، پهٔ دې کښې د لاس وهلو تا ته څهٔ حق حاصل دے؟" هغوئي دا جُمله درې کرته وفرمائيله، ما معافي وغوښتله، خو هيڅ جواب ميلاؤ نهٔ شو، بيا دريو واړو حضراتو تشريف يوړلو، د دې واقعې نه پس مې د شپږو مياشتو پورې د حضرت قبله ميان صاحب شرقپوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ او د قبله والدي و مرشدي سرکار حضرت کيليانواله شريف رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ زيارت نصيب نهٔ شو او هر قِسمه روحاني فيض بند وو، د دې پورې چې د حضور

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت مې نصیب شو او د فیض لړۍ (بیا) روانه شوه- (دُشمنانِ امیر معاویہ کا علمی محاسبہ، 1/380 بتغیر قلیلٍ)

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم عاشقانو!** د دې واقعې نه د بزرګانو عاجزي معلومه شوه، که زمونږ نه څهٔ داسې غلطي وشي نو مونږ چا ته نهٔ وایو، دا د الله والؤ شان دے او دا هم معلومه شوه چې څوک د الله والا وي هغوئي پهٔ خپله غلطۍ باندې قائم نهٔ پاتې کیږي، که د یو ولي الله نه څهٔ غلطي وشي یا ګناه ترې هم وشي (ځکه چې د هغوئي نه ګناه کیدے شي، دوئي معصومه نهٔ وي) نو دوئي پهٔ دې ګناه باندې قائم نهٔ پاتې کیږي بلکې توبه کوي- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

وہ جس سے رُوٹھ جائیں تو رسول اُس سے رُوٹھ جائیں
نبی سے اس طرح کی ہے قَرابتِ معاویہ

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

## د حضرت امیرِ معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تعارُف

د صحابي نبي، کاتبِ وحي (یعنې د وحي د لیکونکي)، د اِسلامي حکومت د وړومبي بادشاه حضرت سیدنا امیر مُعاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مبارک نوم "مُعاوِیه"، کُنیت "ابو عبدُ الرحمان" دے- د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لقب "نَاصِرُ لِدِیْنِ اللّٰہ" (یعنې د الله پاک د دِین مددګار) او "نَاصِرُ لِحَقِّ اللّٰہ" (یعنې د الله پاک د حق مددګار) دے- (تاریخ الخمیس، 2 / 291- سیر اعلام النبلاء، 4 / 285)

# د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَـنۡہُ پهٔ خاندان کښې معاويه نوم

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان سره محبت دے بلکې مونږ د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر يو څيز سره هم محبت کوو- د حضرت سيدنا امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د نوم پهٔ باره کښې يو څو خوندورې خبرې واورئ او خوشحاله شئ-

شارحِ بُخاري حضرت علامه بدرُ الدين محمود بن احمد عَيني حنفي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د "معاويه" پهٔ نوم د 20 نه زيات صحابهٔ کرام [عَلیهمُ الرِّضوَان] تير شوي دي- (عمدة القاری، 2/ 69، تحت الحديث:71) د ډيرو تابعينِ کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم نوم هم "معاويه" وو بلکې د مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ خاندان کښې هم دا نوم موجود وو لکه څنګه چې د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) د ورور حضرت سيدنا جعفر طَيَّار (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) د يو ځوي نوم عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے کوم چې صحابي دے- د هغوئي د ځوي نوم "معاويه" رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وو- (انساب الاشراف لبلاذری، 319/2 ملخصاً)

ہم نے تو دیکھنی ہے فقط نسبتِ نبی
ہے اُن کے قُرب والوں میں نامِ معاویہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مور او پلار اِسلام قبلول

د صحابيِ نبي، کاتِبِ وحي، حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ والدِ محترم حضرت ابو سُفيان رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او مور جانې حضرت بي بي هِند رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا د فتح مکه (8

هجری) پهٔ موقع باندې د الله پاک د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاهِ عالي کښې اِسلام قبول کړو- ( زرقانی علی المواهب، 2 / 440)

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ والدِ محترم صحابي، مور بي بي صحابیه او د هغوئي یوه خور حضرت اُمِّ حبیبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د سرکار عالي وقار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بي بي وه، هغې ته د مؤمِنانو د مور سعادت حاصل دے- الله پاک دې د هغوئي برکتونه زمونږ د ټولو مسلمانانو نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ! جنتي جنتي

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اِمام ابنِ جوزي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ کتاب "اَلۡعِلَلُ الۡمُتَنَاهِیَة" باندې پهٔ تَعلیقات کښې د بُخاري شریف د یو صحیح حدیث نه د حضرت سیدنا امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فضیلت او جنتي کیدل بیان کړي دي- هغوئي لیکلي دي چې د الله پاک پهٔ توفیق سره زهٔ وایم چې الله پاک پهٔ خپل احسان او کرم سره زهٔ د یو داسې صحیح حدیث نه خبر کړم کوم چې د حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د جنتي کیدو ګواهي ورکوي لکه څنګه چې صحابیه حضرت اُمِّ حَرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي: ما د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي: زما د اُمت د ټولو نه وړومبے لښکر کوم چې به پهٔ سمندر کښې جنګ کوي، هغوئي (جَنَّت) واجب کړو، اُمِ حرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي: ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آیا زهٔ پهٔ هغوئي کښې یم؟ د غیبو خبر ورکوونکي خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: تهٔ پهٔ هغوئي کښې یې- (بخاری، 2 / 288، حدیث:2924)

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک د لیکلو نه پس فرمائي: او دا خبره معلومه ده چې دا جنګ د مسلمانانو د دریم خلیفه، حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خلافت پهٔ زمانه کښې د حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ نګرانۍ کښې شوے وو- (عمدة القاری، 242/10، تحت الحدیث:2924) لھذا ثابته شوه چې حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ هغه خلقو کښې دے، د کومو د پاره چې جَنَّت واجِب شوے او حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو د هغه لښکر امیر (یعني سر لښکر او مشر) وو- (تعلیقات امام اہل السنة علی العلل المتناھیة، ص5، مخطوط) د هغوئي دا شان وو-

## د اِسلام وړومبے بادشاه

امام اهلسنت، سیدي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو اول مُلوکِ اِسلام او د سلطنت محمدیه وړومبے بادشاه دے- د هغوئي طرف ته پهٔ تورات شریف کښې اِشاره شوې ده چې "مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ، وَمُهَاجَرُهٗ بِطَيْبَةَ، وَمُلْكُهٗ بِالشَّامِ" یعنې هغه اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ مکه کښې پیدا کیږي او مدینے ته به هجرت کوي او د هغه (اخري نبي) سلطنت به پهٔ شام کښې وي- (المستدرک، 526/3، حدیث: 4300 ملتقطاً) (خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري توګه پهٔ شام باندې بادشاهي نهٔ وو فرمائیلے، اِمامِ اهلسنت مخکښې فرمائي:) نو د امیر معاویه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) بادشاهي اګر که سلطنت دے خو د چا؟ د محمد رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

(فتاویٰ رضویه، 29 / 357)

مسلم الثّبوت ہے فضیلتِ معاویہ
عَیاں ہے شمس کی طرح کرامتِ معاویہ

## یا اللّٰه پاکه چې د امیرِ معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ محبت باندې مو ژوند او مرګ نصیب شي

د صحابي نبي، کاتب وحي، حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان او عظمت باندې د دریمې صدۍ نه اوسه پورې پهٔ عرب او عجم کښې ډیرو علمائے کرامو کتابونه لیکلي دي، د کروړونو حنبلیانو اِمام، حضرت اِمام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دُعا اوکړه: اللّٰه پاک دې مونږ ته د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ محبت کښې مرګ راعطا کړي- (شذرات الذهب فی اخبار من ذهب، 270/1)

اِمام احمد بن حَنبَل رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ څلورو مشهور مُجتَهِدینو [1] کښې یو دے، پهٔ هغوئي پسې تلونکو ته حنبلي وئیلے کیږي، دوئي د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ محبت کښې د اللّٰه پاک نه سوال کوي چې اللّٰه پاک دې مونږ ته د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ محبت کښې مرګ راعطا کړي- (یعنې ژوند خو یې د هغوئي پهٔ محبت کښې تیرولو خو د هغوئي پهٔ محبت کښې یې وفات کیدل هم غوښتل- سُبۡحٰنَ اللّٰه!)

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: ''اَلۡمَرۡءُ مَعَ مَنۡ اَحَبَّ'' یعنې څوک چې د چا سره محبت کوي د هغهٔ حشر به د هغهٔ سره وي- (ترمذی، 172/4، حدیث:2392 ملتقطاً) د هر یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم د هر یو کَس سره محبت

---

[1] ... مُجۡتَهِد هغه دے پهٔ چا کښې چې دومره عِلمي لیاقت او قابلیت وي چې قرآني ارشادات او رموز پیژني او د کلام پهٔ مقصد باندې پوهیږي او د دې نه مسئلې راویستے شي، د ناسِخ او د منسوخ ورسره پوره عِلم وي- د صرف او نحو پهٔ عِلم، بلاغت وغیره کښې پوره ماهر وي، د احکامو پهٔ ټولو آیتونو او حدیثونو باندې د هغه نظر وي- (اعلیٰ حضرت سے سوال جواب، ص 44)

پکار دے، اللّٰہ پاک دې د هغوئي په محبت کښې زمونږ د ایمان او عافیت سره په مدینه منوره کښې د شهادت مرګ نصیب کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مسلمانانو د عزت او د حفاظت فضیلت

صحابي نبي حضرت ابو دَردا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ فرمائي: ما د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي " چا چې د خپل ورور عزت بچ کړو اللّٰه پاک به هغه د قیامت په ورځ د دوزخ د وور نه بچ کړي، بیا رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیت مبارک تِلاوت کړو: ﴿وَ كَانَ حَقًّا عَلَیۡنَا نَصۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ۝﴾ (پ 21 ، الروم: 47)

([مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د مسلمانانو مدد کول زمونږ په ذمهٔ کرم دي)۔

( شرح السنه، 6 / 494، حدیث: 3422)

د دې حدیثِ پاک په شرح کښې حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: دا فرمان مبارک ډیر عام دے، څوک چې د یو مسلمان عزت په څهٔ طریقه بچ کړي که د هغهٔ په مخکښې وي او که د هغهٔ نه پشي شا (یعني چې هغه موجود نهٔ وي) اللّٰه پاک به هغه د دوزخ د وور نه بچ کړي " د مسلمان عزت د اللّٰه پاک ډیر خوښ دے۔"

دوستانو! نن سبا په صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم پسې ډیرې خبرې کیږي (یعني په دې حضراتو پسې بدې ردې ویونکي خلق پیدا شوي دي)، پاځئ او د دې (صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم) عظمتونه خلقو ته بیان کړئ، بیا وګورئ چې

د اللّٰہ پاک او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آستانو نه ښتکه اِنعامونه میلاوېږي، د دې حضراتو پهٔ ملاتړ کښې کتابونه چاپ کول، تقریرونه کول، د دوئي پهٔ فضیلونو آیتونه او حدیثونه چاپ کول ټولې اللّٰه پاک ته د نزدې کیدو ذریعې دي۔

(د دې نه پس مفتي صاحب د عاجزۍ پهٔ توګه خپل ځان ته پهٔ فقیر وئیلو فرمائي:) فقیر یوه رساله " حضرت امیر معاویہ (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) پر ایک نظر " لیکلې ده، پهٔ کومه کښې چې د صحابهٔ کرامو خاص طور د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم پهٔ فضیلتونو باندې د حدیثونو او د قرآنِ کریم د آیتونو پهٔ راجمع کولو د هغوئي فضیلتونه بیان کړے شوي دي، دا وړوکے شان خدمت د دې فرمان مبارک (یعنې اوس چې د مسلمان د عزت د بچ کولو پهٔ باره کښې کوم حدیثِ پاک بیان کړے شو، د دې) پهٔ برکت قبول شي او اللّٰه پاک دې زما خطاګانې معاف کړي۔
(مرآۃ المناجیح، 6/569)

## د مفتي صاحب د کمال بدله نصیب شوه

حضرت الحاج مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ چې د صحابي نبي، کاتِبِ وحي حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ عظمت او شان باندې د قرآني آیتونو او حدیثونو مبارکو کوم کتاب پهٔ نوم د " امیر معاویہ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پر ایک نظر " لیکلے دے، دا مختصر او ډیر ایمان تازه کوونکے کتاب دے، هر یو له کتل پکار دي، اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! پهٔ لوستلو باندې به مو ایمان تازه شي۔ مفتي احمد یار خان صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ د دلیلونو بادشاه دے، اللّٰه پاک دې پهٔ هغوئي باندې پهٔ کروړونو رحمتونه نازل کړي! دا د سُنیانو ډیر لوئي محسن دے، د مفتي

صاحب د دې کتاب داسې برکت نصیب شو چې بس کمال وشو سیرت لیکونکو لیکلي دي چې مفتي احمد یار خان رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه ته د بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ په باره کښې په کتاب لیکلو داسې غوره انعام میلاؤ شو چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل دې خوږ صحابي په شان او عظمت بیانولو باندې ډیر خوشحاله شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشریف راوړلو او مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه ته یې ارشاد وفرمائیلو: "تا زما د صحابي د عزت بچ کولو کوشش کړے دے، الله دې ستا عزت بچ کړي-" (حالاتِ زندگی حکیم الأُمّت، ص 127 ملخصاً)

لیتا ہوں اس لیے تو میں نامِ معاویہ　　　میں ہوں غلام اِبنِ غلامِ معاویہ

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم عاشقانو!** د بده مرغه نن په دې فرمان مبارک: " چا چې د خپل ورور عزت بچ کړو الله پاک به هغه د قیامت په ورځ د دوزخ د وور نه بچ کړي-" باندې عمل ډیر کم دے- زمونږ په مخکښې چې د چا بد بیانیږي نو په بدو د پوهیدو باوجود هم د بدو په اوریدو سر خوزوو- کله چې د یو مسلمان غیبت کیږي نو که ممکن وي او که څهٔ قِسمه فساد نهٔ کیږي نو د هغه مسلمان عزت بچ کول پکار دي او څوک چې غیبت کوي هغه منع کول پکار دي- په دې کښې زمونږ د پاره ډیره فائده ده چې څوک د بل مسلمان عزت بچ کړي الله پاک به هغه د دوزخ د وور نه بچ کړي-

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## وړومبے به يـې د معاويه رَضِىَ اللّٰهُ عَـنْهُ فضيلتونه بيانول

د دريمې صدۍ هجرۍ د ډير لوئي عالِم، حضرت امام ابو عمر محمد بن عبدُ الواحد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه پهٔ خدمت کښې به ډير خلق د عِلمِ دِين د حاصلولو او د عِلم د خبرو د زده کولو د پاره حاضريدل- هغوئي د صحابي رسول حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د فضيلتونو والا حديثونه مبارک راجمع کړي وو او يو کتاب يـې تيار کړے وو، څوک به چې هم د هغوئي نه د عِلمِ دِين د زده کولو د پاره حاضريدو هغوئي به ورته د ټولو نه وړومبے د حضرت امير معاويه (رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ) د فضيلتونو والا کتاب ښودلو د هغې نه پس به يـې هغهٔ ته هُغه عِلم ښودلو د کوم د پاره چې به هغه حاضر شوے وو- (تاريخِ بغداد، 3/160)

د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دوزخ حقدار کيدل

د بهارِ شريعت ليکونکے، حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه ليکلي دي د کومو مفهوم او خُلاصه چې څهٔ داسې ده: کوم کَس چې د هر يو صحابي (رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡه) پهٔ باره کښې که د بدې عقيدې اِظهار کوي، پهٔ زړهٔ کښې خرابه عقيده، نظريه لري، هغه ” مَعَاذَ اللّٰه! “ د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره بُغض لري- اګر که ځلور واړه خُلفاء مني او خپل ځان ته سُني وائي- (اللّٰه پاک دې مونږ د دې نه محکښې د ايمان سره د دُنيا نه رخصت کړي چې د يو صحابي يا اهلِ بيت (عَلیهمُ الرِّضوَان) پهٔ باره کښې زمونږه پهٔ زړهٔ کښې څهٔ غلطه خبره راشي-)

نور فرمائي: ټول صحابهٔ کرام [رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم] اعلیٰ او ادنیٰ (او پهٔ هغوئي کښې ادنیٰ څوک هم نشته) ټول جنتيان دي، هغوئي به د دوزخ معمولي شان اواز هم نهٔ اوري او هميشه به د خپلې خوښې پهٔ مرادونو کښې اوسيږي، د حشر هُغه لويه ويره به هغوئي نهٔ غمژن کوي، فرښتے به هغوئي ته هر کلے وائي چې دا ده هُغه ورځ د کومې چې ستاسو سره وعده وه، دا ټول مضمون د قرآنِ عظيم اِرشاد دے۔ الله پاک پهٔ "سورهٔ حديد" کښې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم دوه قِسمونه بيان کړي دي او فرمائيلي يې دي: ﴿ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ﴾ (پ 27، الحديد: 10) [مفهوم]

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دې ټولو سره الله د ټولو نه د ښهٔ خيز وعده فرمائيلې ده۔

(بہار شریعت، 1/254، حصہ: ملتقطاً)

چې د هر يو صحابي سره د خير وعده شوې ده نو ظاهره خبره ده چې د خير پهٔ وعده کښې د دوزخ عذاب خو هډو شامليدے نشي هُم جَنَّت به ميلاؤيږي۔ څکه زمونږه نعره ده:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | ټولې صحابِياتي هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابُو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي |

(وسائل فردوس، ص 53)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مولیٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تعريف (واقعه)

د کاتِبِ وحي، صحابي نبي حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ بارګاه کښې يو ګس د څۀ مسئلې پوښتنه اوکړه نو هغوئي ورته وفرمائيل: د حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه پوښتنه اوکړه هغۀ ته زما نه زياته پته ده، هغۀ عرض اوکړو: زما ستاسو جواب د حضرت علي [رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ] د جواب نه زيات خوښ دے- حضرت معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وفرمائيل: تا ډيره بده خبره اوکړه، آيا تۀ هُغه هستي نۀ خوښوې د چا د عِلم عزت چې به نبي رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کولو او بے شکه حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي (يعنې حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ) ته وفرمائيل: ستا زما سره هُغه نسبت دے کوم چې د هارون عَلَیۡہِ السَّلَام د موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام سره وو، خو لَانَبِیَّ بَعۡدِیۡ زما نه پس نبي نشته-

(فضائل الصحابة لامام احمد بن حنبل، ص840، حديث:1153)

آلِ اَطہار کے میں گیت ہمیشہ گاؤں ... خوش رہے مجھ سے ترِی آل مدینے والے

**صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

**اے د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتِ اطهار رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم عاشقانو!** يقيناً چې د صحابۀ کرامو او د اهلِ بيتِ اَطهار عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان ادب او احترام زمونږ د دِين او د اِيمان حصه ده او د دې هستيانو پۀ غلامیٔ کښې د دواړو جهانو د پاره سعادت دے- دا حضرات د رَبِّ کائنات د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو تور دي- الله ربُّ العِزت دې مونږ ته د دوئي پۀ نقشِ قدم باندې د تللو توفيق راعطا کړي-

**اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

آلِ واَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ
میں فَقَط اَدنیٰ گدا اصحاب واہلِ بیت کا
میری جھولی میں نہ کیوں ہوں دوجہاں کی نعمتیں
میں ہوں منگتا میں گدا اصحاب واہلِ بیت کا

(وسائلِ فردوس، ص 35)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان پهٔ ژبه د سیدنا عبدُ اللّٰه بن مُبارک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

د عظیم تابِعي بزرګ حضرت عبد الله بن مبارک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پهٔ بارګاه کښې یو کَس عرض اوکړو: حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ بهتر دے که حضرت عُمر بن عبدُ العزیز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه؟ حضرت عبدُ الله بن مبارک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ارشاد وفرمائیلو: د الله پاک د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره (پهٔ غزوه کښې) د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د اَس پهٔ پوزه کښې داخله شوې دوړه (یعنې خاوره) هم د حضرت عمر بن عبدُ العزیز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه افضله ده۔

(کتاب الشریعة للآجری، 5 / 2466)

## د تابعي بزرګ د صحابي سره څهٔ موازنه

د حضرت مُعافیٰ بن عمران رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه پوښتنه وشوه: حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ افضل دے که حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه؟ پهٔ دې پوښتنه اوریدو هغوئي غصه شو او پوښتنه کوونکي ته یې اِرشاد وفرمائیلو: آیا تهٔ د نبي یو صحابي د تابعي پهٔ شان ګرځوې؟ حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ خو د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي، د سخرګنی د طرفه رشته

دار، کاتبِ وحي او د اللّٰه پاک د طرف نه د عطا کړے شوېِ وَحي اَمين (يعنې اَمانت دار) دے- (البداية و النهاية، 5/ 643)

يعنې حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دومره د اعتماد قابل صحابي دے او تۀ د هغوئي د يو تابعي سره د يو شان کولو خبره کوې او واقعي چې دا حقيقت دے چې څوک د لوئي نه لوئي تابعي يا ولي د يو صحابي مرتبې ته هم نشي رسيدے-

## " صحابي" او " تابعي" چا ته وئيلے شي؟

حضرت علامه حافِظ اِبنِ حَجر عَسقَلاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: کومو خوش قِسمتو چې د ايمان پۀ حالت کښې د اللّٰه پاک د خوږ نبي صَلَّى اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ملاقات کړے وي او د اِيمان پۀ حالت کښې وفات شوے هم وي، هُغه خوش قِسمتو ته صحابۀ کرام [عَلیهِمُ الرِّضوَان] وئيلے شي-
(نزهة النظرفى توضيح نخبة الفكر، ص 111)

" تابعي" هُغه بزرګان دي کومو چې د ايمان پۀ حالت کښې د يو صحابي سره ملاقات کړے وي او د هغوئي خاتمه پۀ ايمان باندې شوې وي-
(نزهة النظرفى توضيح نخبة الفكر، ص 113)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هر قِسمه فضيلت ثابت دے

حضرت علامه عبدُ العزيز پرهاروي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پۀ خپل کتاب "اَلنِّبراس" کښې ليکلي دي: حضرت سيدنا امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د

احترام قابل صحابي دے که هغوئي وړوکے صحابي هم اومنلے شي نو بے شکه د هغوئي فضيلت د هُغه ټولو حديثونو مبارکو نه ثابت دے کوم چې د ټولو صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان پهٔ شان کښې بيان شوي دي او هغوئي خو هُغه عظيم صحابي دے چې د هغوئي پهٔ باره کښې خو خصوصي حديثونه هم موجود دي، لکه څنګه چې د الله پاک د خوږ اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيل: "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا،وَاهْدِبِهٖ" يعنې اے الله پاکه! معاويه هادي (يعنې هدايت کوونکے) مَهدي (يعنې هدايت ورکړے شوے) جوړ کړې او د هغوئي پهٔ ذريعه باندې خلقو له هدايت ورکړې- (ترمذی، 5 / 455، حدیث:3868) پهٔ يو بل ځائے کښې د حسنينو نيکه بابا جان، رحمت عالميان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: يا الله پاکه! معاويه ته د کتاب عِلم او حساب وښائې او دا د عذاب نه بچ کړې! (مجمع الزوائد، 9 / 594، حدیث: 15917- النبراس، ص 330)

خائفِ کبریا — حضرتِ معاوِیہ
عاشقِ مصطفیٰ — حضرتِ معاوِیہ
زاہد و پارسا — حضرتِ معاوِیہ
صاحبِ اِتّقا — حضرتِ معاوِیہ
ہو کرم ہو عطا — حضرتِ معاوِیہ
خاتِمہ ہو بَھلا — حضرتِ معاوِیہ
خوب رُو خوش اَدا — حضرتِ معاوِیہ
خوش نُما خوش لِقا — حضرتِ معاوِیہ
مُخلِص و باوَفا — حضرتِ معاوِیہ
باعمل بے رِیا — حضرتِ معاوِیہ
ہم دَمِ باوَفا — حضرتِ معاوِیہ
باادب باحیا — حضرتِ معاوِیہ
جنّتی بے شُبہ — حضرتِ معاوِیہ
باخدا باصَفا — حضرتِ معاوِیہ

(وسائلِ فردوس، ص 57)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابهٔ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان پهٔ باره کښې عقيده

د سِيالوي سلسلې عظيم بُزُرګ حضرت خواجه شمسُ الدِّين سِيالوي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د څو پورې چې د ټولو صحابهٔ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان پهٔ باره کښې اِعتِقاد (يعنې عقيده) صحيح نهٔ وي د هغه وخته پورې اِيمان کامِل نهٔ وي- (مرآت العاشقين (مترجم)، ص 183)

اے خدائے مصطفٰی! ایمان پر ہو خاتمہ
مَغفِرت کر! واسطہ اَصحاب واہلِ بیت کا
یااِلٰہی! شکریہ عطّار کو تو نے کیا
شعر گو، مِدحَت سَرا اصحاب واہلِ بیت کا

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خلاف يو لفظ

غزالي زمان حضرت علامه سيد احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زهٔ د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خلاف د يو لفظ سوچ هم نشم کولے او نهٔ يې پهٔ ژبه باندې وئيل جائز ګڼم، هغه صحابي رسول دے- ( خطبات کاظمی ، 3/ 300) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د خواجه غلام فريد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اِرشاد

د کوټ مِټهن مشهور بزرګ حضرت خواجه غلام فريد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ متقي (يعنې پرهيزګاره) او پهٔ اکابر (يعنې

پهٔ لوئي) صحابؤ کښې دے، (د هغوئي) سره بُغض او حَسَد ساتل او بد ګماني کول سراسر شَقاوَت (يعنې بد بختي) ده- (اشارات فريدی المعروف مقابيس المجالس، ص 1016)

## د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتِ اطهار عَلَيهِمُ الرّضوَان پهٔ باره کښې د اميرِ اهلِسُنَّت مَدَني سوچ

الله پاک دې پهٔ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ باندې کروړونه رحمتونه نازل کړي او مونږ ته دې د هغوئي نور محبت هم راعطا کړي- اے کاش چې پهٔ مونږ کښې د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرّضوَان محبت پيدا شي، الله پاک دې مونږ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرّضوَان عاشقان جوړ کړي، چې مونږ چرې هم د دوئي پهٔ باره کښې کمزورې خبره اونکړو او نهٔ يې واورو- که يو ګس ښې ښې خبرې کوي خو معلومه وي چې د فلانکي صحابي مثلاً حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پهٔ باره کښې د دغه ګس عقيده کمزورې ده يا دا د هغوئي مَعَاذَ الله! بد بيانوي نو بيا د هغه ګس ښې خبرې هم مهٔ اورئ ځکه چې د داسې خلقو بيان اوريدل حرام دي- د اعلیٰ حضرت امام اهلسُنَّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ پهٔ دې باندې فتوې موجودې دي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرّضوَان غلامان بلکې د هغوئي د غلامانو د غلامانو غلامان يو- صحابهٔ کرام او اهلِ بيت عَلَيهِمُ الرّضوَان زمونږ د سر تاجونه دي-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تحفه

د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خومره ښکلے شان دے چې هغوئي زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له اودس کوي [يعنې پهٔ اودس کولو کښې د

مدد د پاره اوبۀ وراچوي وغيره]، لکه څنګه چې د کاتبِ وحي، حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اخري وخت وو او د دُنيا نه يې تشريف وړلو نو اوئې فرمائيل: رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له به اودس ما کولو، يوه ورځ د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اِرشاد وفرمائيلو: آيا زۀ تا ته قميص وا نۀ غوندم؟ ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله! زما مور پلار دې پۀ تاسو باندې قربان شي! ولې نۀ نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل قميص مبارک وويستو او ما ته يې واغوستو- ما هغه سمبال وساتو او خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل نوکان مبارک کټ کړل نو ما هغه پۀ يوه شيشه کښې پۀ حفاظت سره سمبال ايښودي دي، (حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حاضرينو ته وفرمائيل:) کله چې زۀ وفات شم نو د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُغه قميص مبارک زما د وجود سره ميلاؤ کړئ او هُغه مبارک نوکان واړۀ واړۀ کړئ او زما پۀ سترګو کښې يې واچوئ، ممکنه ده چې الله پاک د هغوئې د تبرکاتو پۀ برکتونو پۀ ما باندې رحم اوکړي- (تاريخ ابنِ عساکر، 59 / 227 ملخصاً)

## تَبَرُّک څۀ ته وئيلے شي؟

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د تبرکاتو نه برکتونه حاصلول د صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان طريقه وه، دا څۀ نوے خيز نۀ دے، د تابوتِ سکينه ذِکر پۀ قرآنِ کريم کښې دے، هغه د تبرکاتو مجموعه وه، هغه به د ځان سره وړلے کيدلو او د هغې پۀ برکت به پۀ جنګ کښې فتح نصيب کيدله-

د چا نبي، صحابي، ولي يا د څۀ مبارک ځائے چې د څۀ خيز سره نسبت شي نو هغې ته تبرک (يعني د برکت والا) وئيلے شي- لکه ده مدينے

منورې کجورې او د هغه ځائے تسبيح وغيره- آبِ زَم زَم د مکے مکرمې خاص تبرک دے، د چا بزرګ د ايصالِ ثواب د پاره چې کوم نياز تقسيمولے کيږي نو د هغه بزرګ د نسبت په وجه هغې ته تبرک وئيلے کيږي- د نعتونو په محفلونو او نورو مجلسونو او د ذِکر په محفلونو کښې چې کوم خوارۀ تقسيمولے کيږي هغې ته هم مونږ تبرک وايو ولې چې دا د نسبت والا څيزونه دي-

## د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اخري الفاظ

صحابي نبي، کاتبِ وحي، حضرت سيدنا امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په اخري وخت کښې خپل کور والؤ ته څۀ داسې د نيکئ دعوت ورکړو: " د الله پاک نه ويريږئ ځکه چې څوک د هغۀ نه ويريږي الله پاک هغه په خپل اَمان (يعنې حفاظت) کښې ساتي او د هغۀ نه د نۀ ويدونکي د پاره د پټيدو هيڅ ځائے نشته-" (يعنې څوک چې د الله پاک نه نۀ ويريږي د هغۀد حفاظت هيڅ حالت نۀ جوړيږي، هغه برباد دے، بس دا جُمله هغوئي وفرمائيله) د دې د فرمائيلو سره هغوئي وفات شو- (الکامل فی التاریخ، 3 /370) اَللّٰهُ اَکْبَر! صحابي نبي، کاتِبِ وحي حضرت سيدنا امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دُنيا نه د تللو په وخت د نيکئ دعوت ورکړو- هغوئي د شام په مشهور ښار " دِمَشق" کښې د 78 کالو په عمر کښې د زيارت په ورځ، د رجب په مياشت کښې په 60 هجرئ رحلت وفرمائيلو-

(فيضان امير معاويه، ص 246)

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسولَ اللّٰہ

(وسائل بخشش ، ص 330)

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِي نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولي صحابِياتي هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي |

(وسائل فردوس، ص 53)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د زړۀ درد

د عِلم د کمي يا پۀ څۀ بل څۀ وجه بعضې خلق پۀ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پسې خبرې کوي او علمائے حق د امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دفاع کوي- مَعَاذَ الله! اوس هم داسې خلق شته کوم چې د تاريخ د واقعاتو پۀ وجه حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ردې بدې وائي- د دِين يو طالبِ عِلم هم پۀ دې پوهيږي چې د قرآن او حديث پۀ مقابله کښې تاريخ نشي راوړے کيدے-

زما (يعني د امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه) پۀ داسې خلقو باندې زړۀ سوزي چې دا خلق به د قيامت پۀ ورځ رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پۀ کومو سترګو مخامخ کيږي چې خوک سرکار [صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] کاتِبِ وحي جوړ کړے، د چا پۀ ليکلو چې يـې باور کړے، پۀ هغوئي پسې خبرې کوي، اګر که کاتِبِ وحي (يعني وحي ليکلو والا) دا يو نۀ وو نور صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان هم

وو، د قرآنِ کريم پۀ ليکلو کښې د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ برخه هم شامله ده، مونږ ټول د هغوئي ليکلے شوې وحي لولو، داسې د باور قابل شخصيت چې د چا ليکلے شوے قرآنِ کريم اُمت قبول کړو، پۀ هغوئي باندې ټول اُمت باور کوي، د هغوئي پۀ باره کښې خلق وائي چې دا د يزيد پلار وو بيا به داسې خلق د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام پۀ باره کښې څۀ وائي؟ د هغوئي هم يو ځوي وو، قرآن وفرمائيل چې هغه هډو ستاسو ځوي نۀ دے، کله چې طوفانِ نوح راغلو نو هغه هلک ووئيل چې زۀ به غر ته وخيژم او خپل ځان به بچ کړم، نو غر ته وختو او پۀ غار کښې پټ شو، اوبه هلته هم ورسيدلې او هم هلته يې هغه ډوب کړو- پۀ دې باندې به مَعَاذَ اللّٰه! څوک ووائي چې نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د هغۀ تربيت ولې نۀ کولو؟ مَعَاذَ اللّٰه! ځکه که ځوي خراب وي نو د هغې پۀ وجه پلار ته ردې بدې وئيل توبه اَستَغفِرُ اللّٰه-

بے شکه چې يزيد د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ځوي وو خو پليد او نالائقه وو، مونږ يزيد ته هډو ښۀ نۀ وايو، البته پۀ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پسې دې هيڅ هم نۀ وئيلے کيږي بلکې د هغوئي شان دې بيان کړے شي- مونږ امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه افضل نۀ منو-

## مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ جنګ کښې پۀ حقه باندې وو

د مسلمانانو د څلورم خليفه، مولیٰ علي او د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما ترمينځه جنګ وشو، پۀ دې جنګ کښې دواړو اړخونو ته صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم وو، پۀ دوئي کښې څوک هم د يو بل دښمن نۀ وو، د چا د چا سره

بغض نۀ وو او د دوارو اړخونو نه چې څوک قتل شول نو هغه شهيدان وو خو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ دې جنګ کښې پۀ حقه باندې وو او حضرت امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ خطا باندې وو خو دا خطا اِجتهادي خطا وه، ځکه چې دوئي مُجتَهِد وو، مُجتَهِد ډير لوئي عالِم وي او مُجتَهِد ته پۀ خطا باندې هم يو اَجر ميلاؤيږي او پۀ اِجتهادي خطا کښې چا ته بد نشي وئيلے کيدے، ګنې د فقهې د مشهورو څلورو امامانو د فقهې پۀ مسئلو (مثلاً نمونځ او اودس وغيره پۀ باره کښې پۀ ډيرو احکامو) کښې اِختلاف دے، عِلمِ دِين لرلو والا دوئي ته ردې بدې نۀ وائي- دغه شان د امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پۀ دې معامله کښې اِجتهادي خطا وشوه، مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ حقه باندې وو خو پۀ دې وجه امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بد وئيل فِسق (يعنې ګناه) ده- فَسادٌ فِی الْاِعْتِقادِ فَسادٌ فِی الْعَمَل (يعنې د عقيدې خرابيدل د عمل خرابيدو) نه ډير خطرناک وي، مونږ اهل سُنَّت د صحابۀ کرامو او اهلِ بيت اطهار رَضِيَ اللهُ عَنْهُم پۀ برکت جنتيان يو- دا خبرې يادې ساتئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! څوک به هم تاسو نشي بے لارې کولے- خپل ذِهن جوړ کړئ!

"ہر صحابی نبی جنّتی جنّتی"

پۀ دې کښې حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم راغلو-

## منقبت يــې ولې وليکلو؟

ما (يعنې امير اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له) چا مشوره راکړه چې تاسو د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څۀ منقبت ولې نۀ دے ليکلے، زما جذبه نصيب شوه نو پۀ 22 رجب مې ليکل شروع کړل او خپل شعرونه مې وليکل- د امير

معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په شان کښې زما دا وړومبے منقبت دے، چا چې مشوره راکړې وه الله پاک دې هغوئي له هم جزائے خير ورکړي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما د حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره د صحابي رسول کيدو په وجه محبت دے، دا زمونږه محسن دے چې د قرآنِ کريم مونږ ته په رارسيدو کښې دا هم يوه ذريعه جوړه شوه، د چا چې د دوئي سره اختلاف دے، څوک چې دوئي نهٔ مني، هغه به بل قرآن شريف د چرته نه راوړي؟ ټولو صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان دا قرآنِ کريم منلے دے، په دې کښې اوسه پورې څهٔ کمے زياتے نهٔ دے شوے- الله پاک فرمائي: ﴿ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ۝۹ ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه مونږه دا قرآن نازل کړے دے او بے شکه مونږه پخپله د دې حفاظت کوونکي يو- (پ 14، الحجر: 9)

د قرآنِ کريم په هر يو حرف باندې ايمان راوړل ضروري دي، څوک چې د يو حرف نه هم انکار اوکړي نو هغه کافِر دے، الله پاک د قرآنِ کريم د حفاظت ذمه واري اخستې ده، الله پاک دې زمونږ ايمان سلامت لري-

## د مولیٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره محبت

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زهٔ چې د کله نه په ښهٔ بد پوهه شوے يم نو زهٔ د مولیٰ علي، بي بي فاطمه، حَسنين کريمين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سره محبت کووم- په خُدائے مې دې قَسم وي! زما د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره دومره محبت دے چې که ما څوک ټوټې ټوټې کړي نو زما د وينې هر يو څاڅکے به علي علي نعرې وهي-

## د معاويه د شيرېو حروفو پهٔ نسبت د امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ 6 اِرشادات

﴿1﴾ د خلقو د محرومه کولو نه ځان ساتئ ځکه چې دا عادت د انسان مُرَوَّت (يعنې غيرت، شرم او حَيا) ختموي او شريف اِنسان رسوا کوي- (انساب الاشراف، 33/5)

﴿2﴾ کوم انسان چې د تجربو نه فائده نهٔ اخلي هغه اوچت مقام نشي حاصلولے- (احياء العلوم، 230/3)

﴿3﴾ د غور او فکر او پهٔ اِحتياط سره کار کوونکے انسان کامياب وي- (تاريخ ابن عساکر، 189/59)

﴿4﴾ کله چې د اِنسان د زړهٔ نه د الله پاک ويره ووځي نو تعريف کوونکي هم د هغهٔ بد بيانول شروع کړي- (انساب الاشراف، 36/5)

﴿5﴾ انسان ته ميلاؤ شوي د ټولو نه بهتر څيزونه عقل او حِلم (يعنې نرمي، بُرد باري او د برداشت کولو طاقت) دي- ځکه که داسې گس ته نصيحت اوکړے شي نو قبلوي يې، چې څهٔ ورته ميلاؤ شي نو د الله پاک شُکر ادا کوي، که څهٔ مصيبت پرې راشي نو صبر کوي، چې غصه ورشي نو ځنبي يې، که پهٔ بدله اخستو باندې طاقت لري نو هم يې معاف کوي او که د چا سره څهٔ بد اوکړي نو معافي غواړي- (انساب الاشراف، 46/5) ”بد اوکړي“ يعنې پهٔ هيره ترينه نه بد اوشي، دا مُراد نهٔ دے چې د قصته څوک ووهي او بيا معافي وغواړي- د چا حق ضائع کړي، چا له يې ديکه ورکړه، سنګل ورسره

ولګيده، نو فوراً معافي غواړي- ياد ساتئ چې حُقُوق العِبَاد (يعني د بندګانو حقونه) که په دُنيا کښې مونږه ورکړۀ نو په دې کښې عافيت دے ګنې په اخرت کښې به ورله نيکئ ورکول وي، د دې باوجود که چرې حق ادا نۀ کړے شو نو د مخامخ کَس ګناهونه به په خپل سر باندې اخستل وي، د قيامت معامله ډيره سخته ده- الله پاک دې مونږه بے حسابه اوبخښي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## انسان د مشورې ورکولو کله قابل کيږي؟

﴿6﴾ ” انسان د هُغه وخته پورې د رائے (يعني مشورې) ورکولو قابل نۀ وي د څو پورې چې د هغۀ حِلم (يعني نرمي، بردباري، د برداشت طاقت) د هغه په جهالت باندې او د هغۀ صبر د هغۀ په خواهش باندې غالِب نۀ وي راغلے او دې مقام ته اِنسان د عِلم د طاقت نه بغير نشي رسيدے-“ (احياء العلوم، 220/3)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په دې خبره باندې د ځان پوهه کولو کوشش څۀ داسې اوکړئ چې که چا څۀ مشوره درکړه او د هغۀ مشوره قبوله نکړے شوه، د دې په وجه چې هغۀ له غصه ورغله او هغۀ ووئيل چې زما په مشوره دې عمل ولې اونکړو؟ نو په اصل کښې داسې کَس د مشورې ورکولو اهل نۀ دے، په معاشره کښې ډير خلق داسې وي څوک چې خپلې خبرې ته مشوره خو وائي خو ګڼې يې حُکم-

## د چا د غوښتلو نه بغير مشوره ورکول

کيدے شي چې ما ته بغير د غوښتلو نه په زرګونو مشورې راکړے شوې وي- د دعوتِ اِسلامي په شروع کښې به خلقو په لاره کښې ودرولم او بغير د غوښتلو نه به يې مشورې راکولې، يو ځل يو ګس راغلو او ما ته يې ووئيل: په فلانکي ځائے (کيدے شي چې د پنجاب يو ښار يې ياد کړو او وئيې وئيل چې هلته) د دعوتِ اِسلامي د کار ډير ضرورت دے، تاسو هلته قافله بوځئ ! ما په هُغه ورځو کښې د کراچې د کهارادر په شهيد مسجد کښې امامتي کوله، ما ووئيل: تاسو راسره لاړ شئ؟ نو هغه ووئيل: زما سره وخت نشته- داسې قِسمه خلق وي د کومو سره چې صرف د مشورې ورکولو د پاره وخت وي او هغه هم بغير د مشورې د غوښتلو-

په ککري ګراؤنډ (کهارادر، کراچی) کښې چې به په کومو ورځو کښې اجتماع کيدله، يو صاحب ما ته ووئيل چې ” تاسو د اجتماع د ځائے نه بهر په دروازه باندې يو بکس وغيره ولګوئ او څه خلق پرې ودروئ چې څوک هم اجتماع ته داخليدل غواړي نو هغه دې يوه روپۍ چنده ورکوي د دې سره به چنده هم ميلاؤ شي او د راتلونکو د شميرې پته به هم ولګي-“ په دې مشوره باندې دې د پاره هم عمل نشو کيدے چې ” دِيني اجتماع ته په راتللو د چا نه په زور روپۍ اخستل شرعاً جائزې نۀ دي- که ما په دې مشوره باندې عمل کړے وے نو د غير شرعي کار سره سره به دا هم کيدل چې خلق به ګوريدل او شور شغرب به يې کولو او تلل به چې مونږ اجتماع له نۀ راځو- ډير خلقو به ما ته اوږدۀ اوږدۀ خطونه تحريرونه او مشورې به يې راکولې او حکمونه به جاري کول چې داسې کول پکار دي يا داسې اوکړئ- که زما

تجربه نۀ وے، غصه ناک وے او د هر يو کَس پۀ مشوره باندې مې عمل کولے نو نن چې د دعوتِ اِسلامي څومره کار پۀ دُنيا کښې د الله پاک پۀ رحمت سره خور شوے دے کيدے شي چې دومره نۀ خوريدلے او نۀ به د مدني چينل سپرلي پۀ دُنيا کښې وو، ځکه چې ما ته د راکړے کيدونکې ډيرې مشورې به د مشوره راکوونکو د تجربې نه بدلې وې، ما چې د خپل کار د پاره کله دُکان پرانستو نو معلومه شوه چې د ګاهک سره به څۀ کوې- د مثال پۀ توګه که څوک مزدور تجربه نۀ لرونکي دکاندار ته ووائي چې د ګاهک سره پۀ تريو تندي خبرې کوه! نو هم تاسو ووايئ چې پۀ دې طريقه به ګاهک څنګه مطمئين کيږي؟ بلکې تجربه لرونکے دکاندار به د ګاهک مطمئين کولو د پاره داسې خبرې کوي چې "ورور جانه! مهرباني اوکړئ، سَر، جناب" وغيره- ما دا مثال د پوهه کولو د پاره درکړو چې زما پۀ خپل کار کښې ډيره تجربه وه البته د بعضې خلقو مشوره پۀ کومه به چې پوهيدم نو قبلوله به مې- بهر حال مونږ پۀ دِيني کارونو کولو کولو ډيرو ملکونو ته رسيدلي يو او د الله پاک پۀ رحمت سره به پۀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شاته شاته جَنَّت ته هم ځو-

## د امیر معاویہ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ منقبت

رب کی ہو تم پہ ہر گھڑی رحمت معاویہ
اور مصطفٰی کی نظرِ عنایت معاویہ

دل میں ہے میرے آپ کی الفت معاویہ
یہ ہے خدا کی مجھ پہ عنایت معاویہ

مولا علی کا تم نے ہمیشہ اَدب کیا
کرتے رہے علی بھی ہیں شفقت معاویہ

نامِ معاویہ پہ بھی بے جا ہے اعتراض
فرمایا خود نبی نے سَماعت معاویہ

بے شک معاویہ سے ہے بَرتَر علی کی شان
رکھتے نہیں ہیں ان سی فضیلت معاویہ

پَر یہ زباں درازی کی ہر گز نہیں دلیل
ہر گز نہیں ہیں قابلِ نفرت معاویہ

حق ہے کہ اِجتہادی خَطا جنگ میں ہوئی
حیدر ہی حق پہ تھے نہ کہ حضرت معاویہ

پَر ہیں صحابہ وعدۂ حسنٰی میں سب کے سب
حضرت علی ہوں یا کہ ہوں حضرت معاویہ

دونوں جہاں میں اس کا تو بیڑا ہی پار ہے
تم سے ہے جس کو سچی محبّت معاویہ

فضلِ خدا سے وہ نہ جہنم میں جائے گا
ہے دل میں جس کے آپ کی عزّت معاویہ

ہو جائے مجھ کو خیر سے دیدار آپ کا
کھل جائے کاش میری بھی قسمت معاویہ


عشقِ نبی میں کاش میں تڑپا کروں سَدا
ایسی نگاہ کیجئے حضرت معاویہ

ایماں پہ موت آئے مدینے میں خیر سے
کر دو دُعا خدا سے یہ حضرت معاویہ

عطّار کو تمہاری غلامی پہ ناز ہے
محشر میں کام دے گی یہ نسبت معاویہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي
+92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net